شهسوار سنگروال نیازی ۲۰۱۴/۰۴/۰۴

د ځنګله باچا، شغالشاه

توري شپې هري خواته خپلې تیارې وزرې خورې کړې وې. تپه تیاره وه. سترګه په سترګه نه ښکارېده.
په داسې حال کې چې د ژمي ترخه سیلۍ چلېده یو شغال له خپلې سوړې ووت. د آسمان ټینګو وریځو ته موسکی شو. ژر یې په خپلو شونډو ژبه تېره کړه، او د کلي یو کور ته د تنکیو چرګوړو ښکار پسې ننوت.

په ځنځیرونو تړل شوي سپی ورغې کړ، او د شغال زړه یې له پردې ووېست. خوارکی له ډېرې وارختایی د رنګرېز خم کې ولوېد، او خیشت پیشت راووت.

د شغال ښکار له مرګه شو.، لکی او ځان یې ژر ژر وخنډل، او بیا له ډاره مخ په غره روان شو.
سبا چې له خوبه پاڅېد، که ګوري چې د رنګرېز خم د ده رښتینې څېره بدله کړې ده، نو سمدستي یې ځان د ځنګله باچا اعلان کړ.

یوه ورځ چې د ځنګله باچا، شغالشاه، چې د خپلې لکی په سر ناست و د غرو ځناورو سره یې د ځنګله کیسې شریکولې. د غره او ځنګله چارواکو هر یوه په خپل وار ورته د خپل خلوص څرګندونه کوله:

زمری: ګرانه باچا! ما چې کوم ښکار کړی دی، او کومې تنکی هوسۍ مې چې له ستونې تېرې کړې دي، نو بیا مې تاته تاوده تاوده لړمونونه دردالی کړې دي. او دا ځکه چې زما او ستا معده شریکه ده. عمر دې ډېر شه باچا!

پړانګ: ما هم چې د تنکیو وریو ستونې زبېښلې دي تا ته مې لپې لپې وینې لکه د "میو" په څېر وړاندې کړې دي، ځکه چې مونږ او تاسې ازلي شریکان یو.

ګیدړه: خدای دې زما له سره مه کموه ګرانه باچا! ما چې کوم کورنې چرګوړې ښکار کړې دي، او بیا مې پرې خپلې سپېرې شونډې غوړې کړې دي، نو ستا د سر دوعا مې کړې ده.
نو بیا چې ګیدړې د شغالشاه تندی ولید، نو د سترګو په اشاره یې شغالشاه کونج ته کړ، او په غږ کې یې ورته وځخوله:

ای د غرونو او ځنګلونو باچا!

ته ډېر زمریان او پړانګان لرې. هغوی زور لري، مټې او خونړۍ پنجې لري، ډېرې تنکی هوسۍ یې له ستونې تېرې کړې دي، او د ډېرو تنکیو وریو ستونې یې زبېښلې دي... خو ته یو سلا کار ته اړتیا لرې چې د باچاهۍ چل، او د کالیو آغوستلو کلتور درزده کړې...
بیا ګیدړه تر ډېرو کلونو پورې د شغالشاه سلاکاره وه، خو یوه ورځ شغالشاه ګیدړه خپل دربار ته راوغوښته.

شغالشاه: ګرانې سلاکارې! تا چې ما سره دومره خواخوږې وښودله، نو زه به هم په تا ورحمېږم، او یوه نه هېرېدونکې پېرزوینه به دردالی کړم:
ته پوهېږې چې زما رنګ بدلېدونکی دی... باران زما د رنګونو څېره او مزه پیکه کړې ده، زه نور نه چلېږم... نو تا ته هم سپارښتنه کوم چې ته هم د تیارې شپې منګلو ته ځان وسپاره، او د کوم رنګرېز په خم ځان غوټه کړه، او بیا راشه زما ځایناستې شه!!!
ګیدړې چې د شغالشاه خبرې واورېدې له ډېرې خوښۍ نه یې لکی چنګه کړه:
راځه چې اوس په ګډه ووایو چې لوی ښتن دې د شغالشاه باچاهي تلپاتې لري:
زوړ شغالشاه + نوماند شغالشاه = بریالیتوب

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ